١

د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست
د تحريراتو آمريت
د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل شمېره: ۲
نېټه ۱۳ /۷/ ۱۴۴۳ هق

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐

د افغانستان اسلامي امارت تمیز ونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محاکمو ته!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاتهٗ

وبعد: په تاریخ ۱۴۴۳/٤/۲۷ هق د محترم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله په مشري د ستري محکمې د رئیس محترم شیخ صاحب او د هغه د ملګرو ترمینځ مجلس دایر شو او په لاندې موضوعاتو بحث او فیصلې وشوې:

**اوله موضوع**: په تیر فاسد حکومت کې د قضاء له خوا د زوج او زوجې ترمنځ تفریق شوی وي اوس پخوانی زوج خپله زوجه غواړي او دې زوجې بل واده هم کړی وي او کله کله اولاد هم ورځینې لري نو په دې اړه محاکم باید څه وکړي؟

**فیصله**: دغه موضوع دې د ولس مشهورو علماء کرامو ته د استفتاء په شکل ولیږل شي او له تحقیق وروسته دې په عامو خلکو کې هم اشاعت ورکړل سي.

**دوهمه موضوع**: د تیر فاسد حکومت په وخت کې نهایي شوي فیصلې چې قانع جانب یې اوس اجراء غواړي او هغه فیصلې چې په تیر فاسد حکومت کې یې ابتدائیه او مرافعه شوي وي خو نهایي شوي نه وي په دې اړه باید څه وشي؟

**فیصله**: دغه اوله موضوع کې که یې تطبیق نه وو شوی هغه دې د سترې محکمې د افتاء ریاست ته ولیږل شي هغوی دې تحقیق وکړي، که له شریعته خلاف وي نو بیرته دې د سره جریان ورکړل سي او که د شریعت موافق وي نو ورته تطبیق دې سي.

او په دویمه موضوع کې که یې ابتدائیه شوي وي نو مرافعه دې وګوري او که یې مرافعه شوي وي نو تمیز دې وګوري د نورو فیصلو په شان معامله دې ورسره وکړي.

**دریمه موضوع**: کوم څوک چې پر فیصلو د تجدید نظر غوښتونکې وي باید چاته مراجعه وکړي؟

**فیصله**: تجدید نظر او ټول هغه څه چې تر قضاء پورې اړه لري د مشرتابه (امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله) پورې تعلق لري بل څوک یې نشي کولی.

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af

**څلورمه موضوع:** د شمال د ځمکو په یورتونو قوي دعوې دي چې محکمې یې نشي حل کولای باید څه ورسره وشي؟

**فیصله:** دغه موضوع دې د علماء کرامو د شورا تر جوړیدلو معطل شي کوم وخت چې شورا جوړه شوه هغوی به یې په اړه تحقیق وکړي په سوله ییز طریقه به یې د حل لار وسنجوي.

**پنځمه موضوع:** د اسنادو موضوع چې په تعطیل کې وه اوس باید څه ورسره وشي.

**فیصله:** دغه هم باید د علماء کرامو د شورا تر جوړیدلو پورې معطل شي.

د ستري محکمې د عالي مقام د هدایت په اساس د پورته ذکر شوي موضوعاتو په اړه د دې متحدالمآل په استولو سره و ټولو تمیزونو، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محاکمو ته خبر ورکول کیږي تر څو خپلې شرعي او اصولي کړنې د هغې په رڼا کې برابرې کړي.

په درنښت

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمې

د دارالانشاء رئیس

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلورلارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af